مینڈک سوار بچھو (پشتو)



# د چِیندخي په شا سور لړم

## (مع د مصیبت فضیلت، ۳۲ روحاني علاجونه)


شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَہلِسُنَّت، بانِیِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

## كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخكښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې كيږي:

اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه علم او د حكمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت


| | |
|---|---|
| د رسالې نوم: | د چينډخې په شا سور لړم |
| اول ځل: | ربيع الاول ١٤٣٧ھ، دسمبر 2015ء |
| تعداد: | 3000 |

ناشِر: مكتبةُ المَدينه، عالمی مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه كراچى.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ كولو اجازت نشته


**كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ**

كه دَ كتاب په طباعَت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼړې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښ وروسته لګيدلې وي نو مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوكړئ.


www.dawateislami.net

# د چيندخي په شا سور لړم

دا رِساله "مينڈک سُوار بچھو" شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتې اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د چيندخي په شا سور لړم

(شيطٰن که هر څومره ناراستي دروِلي خو تاسو دا رِساله پوره اولولئ
اِنْ شَآءَ اللّٰه عزّوجلّ په آفتونو باندې به مو د صبر کولو ذِهن جوړ شي)

## د درود شريف فضيلت

د سَيِّدُ الْمُرسَلِين، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ فرمان دې: په ما باندې دُرُود شريف لوستل په پُـل صِراط باندې نُور دې، څوك چه د جُمعې په ورځ په ما باندې **اتيا** ځله دُرُود شريف اولولي د هغه د **اتيا کالو** ګناهونه به معاف شي. (اَلْفِردوس بِمأثُورِ الخطاب ج۲ ص۴۰۸ حديث۳۸۱۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**حضرتِ** سَيِّدُنا يُوسُف بِن حَسَن رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: يو ځل زه د **حضرتِ** سَيِّدُنا **ذُالنُّون مِصري** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه سره د يو تالاب غاړې ته موجود ووم، ناڅاپه مو يو ډير غټ **لړم** اوليدو، په دې کښې يوه غټه غوندې **چيندخه** د تالاب نه را اووتله، **لړم** په هغې د پاسه کښيناستو! بيا **چيندخه** په لامبو لامبو د تالاب بلې غاړې ته روانه شوه، دا منظر مو چه اوليدو نو مونږه په تيزئ سره د تالاب هغه بلې غاړې ته ورغلو،

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو **الله** عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

**چيندخي** **لړم** كوز كړو او **لړم** په تيزئ سره يو طرف ته روان شو، مونږه هم په هغه پسې وروستو وروستو ور روان شو، لږ لري چه لاړو نو مونږه يو يَرَوونكي منظر اوليدلو، هغه دا چه يو ځلمي د نشې په حالت كښې بيهوشه پروت وو، ناڅاپه يو **خوفناك مار** د څه ځائ نه را اووتو او د هغه ځلمي سينې ته ور اوختو او چه څنګه ئې د هغه چيچلو ته ځان تيارولو نو **لړم** پرې يو دم حمله اوكړه او **مار** ئې اوچيچلو، د **لړم** زهر دومره خطرناك وو چه **خوفناك مار** د ډير تكليف نه د هغه ځلمي د بدن نه يو طرف ته لري شو او په تاويدو تاويدو مړ شو. **لړم** بيا د هغه تالاب غاړې له راغې او د هم هغه **چيندخي** په شا كښيناستو او بلې غاړې ته روان شو او هغه ځلمې لا تر اوسه پورې په نشه كښې بيهوشه پروت وو، **حضرتِ سَيِّدُنا ذُالنُّون مِصري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هغه او خوزوو را اوخوزوو نو هغه ستركې اوغړولې، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته اوفرمائيل: اے ځلميه! اوګوره **خدائے رَحمٰن** عَزَّوَجَلَّ ته څنګه بچ كړې او **"د چيندخي په شا سور لړم"** او **د خوفناك مار** قِصّه ئې ورته اوكړه او مړ شوې پروت مار ئې ورته اوښودو.

**ځلمي** د غفلت نه رابيدار شو، توبه ئې اوكړه او د خپل خوږ **پروردګار** عَزَّوَجَلَّ په دربار كښې ئې عرض اوكړو، **"اے خُدائے رَحمٰن** عَزَّوَجَلَّ چه د خپلو نافرمانو بندګانو سره ستا د فضل و اِحسان كولو دا شان دې

نو په خپلو فرمانبردارو بندګانو به ستا د رحمتونو ورَوَلو څه شان وي!" راوي فرمائي چه د هغې نه پس هغه ځلمې يو طرف ته روان شو، نو ما ترې تپوس اوکړو چه "د چرته تلو اِراده دِ ده"؟ هغه اووئيل: چه اِنْ شَآءَ الله عزَّوجَلَّ زه به نور (د دُنيا د تماشو نه لرې) په ځنګلو کښې د خپل رحمتونو والا ربّ عَزَّوَجَلَّ عباداتونه کووم. (عُيُونُ الحِكايات ص ١٠٢ مُلَخَّصاً)

## د اللّٰه په هر کار کښې حِکمت وي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! چه"**د چيندخې په شا سور لړم**" په نشه کښې پروت شرابي ځلمې د **اللّٰه** رَبُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ په رَحمت څنګه د **خوفناك مار** د مُصيبت نه بچ کړو! يقيناً د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په حِکمتونو مونږه نه پوهيږو. د هغه په هر هر کار کښې حِکمت وي، څوك په **مُصِيبَت** کښې اخته کول ئې هم حِکمت دې او څوك بې غوښتو د **مُصيبَت** نه بچ کول ئې هم حِکمت دې. ځيني وختونه بنده په مُصِيبَت کښې نښتې وي نو هغه د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې سر ښکته کړي او په عبادتونو کښې مشغول شي او کله داسې هم اوشي چه په سر رارسيدلې **مصيبت** نه **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د بنده حِفاظت اوفرمائي، اِحسان پرې اوکړي او هغه بنده فرمانبردار جوړ شي، لکه څنګه چه د دې حِکايت "**د چيندخې په شا سور لړم**" نه ثابته شوه.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

گناہوں کا ہے صدور آہ! ہر گھڑی یا رب!

کر عفو ہائے! اَجَل سر پہ ہے کھڑی یا رب!

په ګناهونو كښې اخته يم آه! هر وخت يا ربّ!

بخښنه اوكړه هائے! د مرګ مې دي ساعت يا ربّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه څه كوي ښه كوي

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه** چاپ شوې د ٤١٣ صفحو كتاب "**عُيُوْنُ الْحِكَايَات**" (حِصّه اوّل) په صفحه ١٨٧ كښې دي: د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ يو نيك بنده به [د خپل بال بچو سره] د يو ځنګل په يو كلي كښې اوسيدلو، د هغه سره يو **چرګ** [يعني بانګي]، يو **خر** او يو **سپي** وو. چرګ به د سحر **نمانځه** ته راپاخولو، په **خر** به ئې اوبه او نور څيزونه راوړل او **سپي** به د هغه د كور او د نور سامان څوكيدار كوله، يوه ورځ **چرګ** ګيدړې اوخوړو، د كور كسان په دې نقصان باندې خفه شو خو هغه نيك بنده صبر اوكړو او اوئې وئيل: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه كوي ښه كوي.**" څه ورځې پس يو شرمخ **خر** مات كړو، د كور كسان ډير خفه شو خو هغه نيك سړي هم دا اووئيل: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه كوي ښه كوي.**" بيا څه موده پس **سپي** بيمار شو او مړ شو، په دې باندې هم هغه هم هغه خبره اوكړه چه: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه كوي ښه**

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

**کوي.**" څه ورځې پس ناڅاپه دُښمنانو د شپې په هغه کلي حمله اوکړه او د ښاروو او ځناورو د اوازونو په اوريدو ئې کورونه معلوم کړل او د مال او سامان وړلو سره سره ئې د کورونو ټول خلق هم اونيول او د ځان سره ئې بوتلل، د هغه نيك سړي په کور کښې څه ښاروې يا ځناور د سره وو نه چه اواز ئې وِيستلې وې ځکه دُښمنانو په تيَره کښې د هغه کور د طرف نه هډو خبر هم نه شو، او دغسې هغه د دې ناڅاپه آفت نه بچ شو او دغسې د صبر سره سره د هغه دا يقين نور هم مضبوط شو چه: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه کوي ښه کوي.**" (عُيُونُ الحِکايات ص۱۲۱ مُلَخّصاً) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## که ډاکو راغلې وې نو......؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د دې حِکايت نه هم دا درس حاصِل شو چه کله هم د څه بيمارئ، پريشانئ يا د بې روزګارئ وغيره ازميښت پيښ شي نو مونږ ته هم دا وئيل او منل پکار دي چه: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه کوي ښه کوي.**" ځکه چه د هر مُصيبَت نه غټ مُصيبَت شته دې، مثلاً که د کور نه غلا اوشي نو اکثر چه مالي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

نُقصان خو اوشو خو هم دا وئيل پکار دي چه: ''**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **چه څه کوي ښه کوي.**'' ځکه چه که ډاکوانو حمله کړې وې نو د مالي نقصان سره سره د سر د نقصان خطره هم کيدې شوه! دا هم ياد ساتئ چه ځيني وخت د څه دُنياوي نِعمَت په لاس راتلل د ډير غټ مُصيبَت د راتلو سبب هم جوړيږي، مثلًا د چا د پينځه کروړه روپو بونډ را اوختو! نو په ظاهره خو دا داسې خبره ده چه سړې ورته د خوشحالئ نه ليونې کيږي خو هغه څه خبر دې چه د هغه په حق کښې دا نِعمَت دې او که مُصيبَت؟ آيا د دې رقم په ذريعه به هغه ته د جُمات جوړولو سعادت نصيب کيږي او که د دې دولت په وجه به هغه د ډاکوانو د لاسه مري! چا ته څه معلومه ده چه دا کروړونه روپئ د ده په عيش و عِشرت کښې د اِضافې د پاره را غلې دي او که نه د ده په خپل علاج يا د کور د يو اهم کس د بيمارئ په علاج باندې د لګيدو د پاره راغلې دي! آو! داسې بالکل کيدې شي، چنانچه په دې باره کښې يو رِښتينې حِکايت واورئ:

## د ځيګر تبديلي (حِکايت)

د يو مُبَلِّغِ دعوتِ اِسلامي څه داسې بيان دې چه زمونږه يو عزيز ټول عمر ډيره زياته خواري او مشقَّت اوکړل او ښه ډير دُنياوي دولت ئې جمع کړو او اوس هغه د يوې فيکټرئ مالِك دې، هغه ته

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ډاکټرانو د عِلاج د پاره د ځيګر (LIVER) [يعني د اِينې] د بدلَولو مشوره ورکړې ده چه په هغې باندې زيات و کم د پينځه اويا لکه روپو د خرچې راتلو اِمکان دې او د هغې د پاره هغه غريب د کلونو په خوارې ګانو باندې جوړه شوې فيکټرئ د خرڅولو ترکيب جوړوي.

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په دې عِبرتناك حِکايت باندې غور اوکړئ! چه کله هغه کار شروع کړې وو او کاروبار ئې په ترقئ روان شوې وو نو څومره به خوشحاله شوې وو! خو هغه ته څه معلومه وه چه هغه دا لګونه روپئ د خپل ځيګر د بدلَولو د پاره جمع کوي، شرعي مسئَله ياده ساتئ چه د اندامونو بدلول جائِز نه دي.

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے
مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے
جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په دُنيا کښې هرطرف ته نمونې دي د عبرت
خو ستا سترګې پټې کړې تماشو او ډير دولت
کله تا دې غور کړې په دې باندې
محلونه چه آباد وو اوس پراته دي لاندې باندې
دا دنيا د زړه لګولو ځائ نه دې
ځائ د عِبرت دې د زړه لوبَولو ځائ نه دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوک چه په ما دَ جُمعي په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

# د ازميښتونو باران

**مُصيبت** وهلو! هِمّت مه بيلئ! اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ مصيبتونه به مو په دوارو جهانو کښې بيړئ پورې باسي، چنانچه د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چه کله **الله** عَزَّوَجَلَّ د يو بنده سره **مَحَبّت** فرمائي نو په هغه باندې **د ازميښتونو باران** وروي، بيا چه کله هغه بنده خپل ربّ عَزَّوَجَلَّ يادوي: چه اے زما ربّ عَزَّوَجَلَّ! نو **الله** عَزَّوَجَلَّ فرمائي: ”اے زما بنده! ته چه زما نه څه غواړې زه به ئې تا ته درکووم، يا خو به ئې زر درکړم يا به هغه ستا د آخِرت د پاره ذخيره کړم.“

(اَلْمَرَض وَالْکَفّارات مع مَوسُوعة اِبنِ اَبِی الدُّنیا ج٤ ص٢٨٥ حدیث ٢١٢)

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ٨٥٣ صفحو کتاب ”**جہنم میں لے جانے والے اعمال**“ (جِلد اوّل) صفحه ٥٢٥ کښې دي: **حضرتِ** مَدائِني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ وائي: چه ما په څنګل کښې يوه زنانه اوليدله نو ګُمان مې شو چه شائِد ډيره خوشحاله ده، خو هغې اووئيل: چه ”زه په غمونو او پريشانو کښې اخته يم، هغې اووئيل چه يو ځل زما خاوند يوه چيلئ حلاله کړه نو زما په [ماشومانو] ځامنو کښې يو خپل وررور هم هغسې حلال کړو بيا هغه اوېريدو او غر

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

طرف ته اوتښتيدو او شرمخ اوخوړو، د هغه پلار په هغه پسې لاړو نو هغه هم د سختې تندې نه وفات شو.“ هغوئي ترې تپوس اوكړو چه تا صبر څنګه اوكړو؟ نو هغې په جواب كښې اووئيل: چه هغه تكليف خو يو زخم وو او هغه ښه شو.

## ما ته نابينا اوسيدل منظور دي

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو بَصِير رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ (هغوئي نابينا وو) فرمائي: چه زه يو ځل د **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام **باقِر** رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په خِدمت كښې حاضِر شوم، هغوئي زما په مخ لاس راښكلو نو زما سترګې **روښانه** [يعني بِينا] شوې، چه بيا ئې پرې لاس مبارك راښكلو نو بيا **نابِينا** شوم. حضرت سيِّدُنا اِمام **باقِر** رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ ما ته اوفرمائيل: چه تاسو په دې دواړو خبرو كښې كومه خبره اختيارول غواړئ؟ (۱) [يعني يوه د اچه] ستاسو سترګې بِينا شي او د قيامت په ورځ ستاسو نه د بينائي د نِعمَت او د نورو اعمالو حِساب واخستې شي (۲) [بله دا چه] تاسو نابينا اوسئ او د حساب كتاب نه بغير جَنَّت ته داخِل شئ؟ ما عرض اوكړو: چه په جَنَّت كښې بې حِسابه داخليدل غواړم، ما ته نابِينا اوسيدل منظور دي. (شَوَاهِدُ النُّبُوَّة ص ۲۴۱ مُلخّصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

## غم وهلي به تړول تکليفونه هير کړي!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د آخِرت د مُصيبتونو په مُقابله کښې دُنياوي راحتونه [يعني آرام او نِعمَتونه] هيڅ حَيثِيَّت نه لري. د جَهَنَّم صرف يوه غوپه به د بنده نه د ټول عمر عيش و عشرت او راحتونه هير کړي او په خاورو کښې به ئې ګډ کړي، هم دغسې د آخرت د نعمتونو په مُقابَله کښې د دُنياوي تکليفونو هم هيڅ حيثيّت نشته، د جنّت صرف يو چکر به د بنده نه د ټول ژوند تکليفونه نَسْيًا مَّنْسِيًّا (يعني بالکل هير) کړي او غم وهلي بنده به هم دا ګنړي چه ما ته کله هم څه تکليف نه دې رارسيدلې. څنګه چه د مدينې د تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: د قيامَت په ورځ به هغه دوزخي راوستې شي چا ته چه په دُنيا کښې د ټولو نه زيات نعمتونه ورکړې شوي وي او هغه له به په جَهَنَّم کښې يوه غوپه ورکړې شي او تپوس به ترې اوکړې شي: اے سړيه! آيا تا کله [په دُنيا کښې] څه خير ليدلې وو؟ آيا تا ته کله څه نِعمت درکړې شوې وو؟ نو هغه به وائي: چه "قسم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! [کله هم] نه" بيا به هغه جَنَّتي راوستې شي چا چه په دُنيا کښې د ټولو نه زيات تکليفونه تير کړي وي او هغه ته به په جنّت کښې يوه غوپه ورکړې شي، بيا به د هغه نه تپوس اوکړې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

شي: اے انسانه! آيا تا کله څه تکليف ليدلې وو؟ په تا کله څه سخته راغلې وه؟ نو هغه به وائي چه [قَسم] په خدائے! اے زما ربّه! کله هم نه، په ما کله هم څه تکيف نه دې راغلې او نه ما کله څه سخته ليدلې ده. (مُسلِم ص۱۵۰۸ حديث ۲۸۰۷)

## د اِيمان لِباس (حِکايت)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! چه کله هم دربانديې څه آفت راشي، که د اوګدې مودې پورې هم بيمارې نه ښه کيږې يا مو بيروزګارې نه ختميږې، يا مو مسائِل نه حل کيږې، په هره موقع باندې صرف د صبر صبر او صبر نه کار اخستل او د آخِرت ثواب ګټل پکار دي. **حضرتِ سَيِّدُنا داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې عرض اوکړو: **اے زما ربّه!** ستا د رضا حاصلولو د پاره چه څوک په مُصيبَتونو باندې **صبر** کوي د هغه پريشانه اِنسان بدله څه ده؟ الله عَزَّوَجَلَّ اوفرمائيل: د هغه بدله دا ده چه زه به هغه ته **د ايمان لِباس** واغوندم او د هغه نه به ئې کله هم نه اوباسم. (اِحياءُ الْعُلوم ج۴، ص۹۰) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

وہ عشقِ حقیقی کی لذّت نہیں پاسکتا
جو رنج و مُصیبت سے دوچار نہیں ہوتا (وسائلِ بخشش (مُرمم) ص۱۶۴)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

خوند موندې نه شي هغه د حقيقي عِشق
خوك چه ګير نه شي په غم او مُصيبت کښې

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کربلا والؤ نه زيات مُصِيبَت وهلي څوك؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! پريشان حاله بنده له پکار دي چه هغه د الله عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسي او په خپل ځان دِ اِنفِرادي کوشش کوي او په زړه کښې دِ ځان ته داسې وائي چه د کربلا په قيديانو او شهيدانو رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُم اَجْمَعِين چه کوم مُصيبتونه راغلي وو هغه يقيناً زما د مصيبتونو نه په کروړونو هُمره زيات وو خو هغوئي په خوشحالئ خوشحالئ برداشت کړل او په صبر کولو د الله عَزَّوَجَلَّ د نزديکت حقدار جوړ شو. نو هسې نه چه چرې بې صبري اوکړم او د آخِرت د سعادت نه محرومه پاتې شم. يقِيناً يقِيناً يقِيناً په دُنياوي مُصيبَتونو او پريشانو، غريبئ او بيمارو وغيره باندې د صبر کولو والؤ د پاره د آخرت ډير آرام او ډيرې ډيرې مزې دي.

## روښانه قبرونه

حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بِن ذَکوان رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه وفات شو نو يو کال پس يو بُزُرګ رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خوب کښې اوليدلو او تپوس ئې ترې اوکړو چه کوم قبرونه زيات روښانه دي؟ هغوئي اوفرمائيل: قُبُوْرُ اَهْلِ الْمَصَائِبِ فِى الدُّنْيَا يعني په دُنيا کښې د زياتو مُصيبتونو وهلو خلقو.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو دَ گناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِیر)

(تَنبِیهُ الْمُغْتَرِّین ص١٦٦)

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اولیده! چه هغه د توره تیَرو قبر چه د دُنیا د بجلئ یو بلب ئې هم نه شي روښانه کولې هغه به اِنْ شَآءَ اللہ عزَّوجلّ د **خوږ خوږ** آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور په خاطر د پریشان حالو د پاره نُور نُور شي او پرقیږي به.

خواب میں بھی ایسا اندھیرا کبھی دیکھا نہ تھا  جیسا اندھیرا ہماری قبر میں سرکار ہے
یا رسول اللہ! آکر قبر روشن کیجئے  ذات بے شک آپ کی تو منبعِ انوار ہے

د شعرونو ترجمه: (١) یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په قبر کښې داسې تیَره ده چه ما په خوب کښې هم کله داسې تیَره نه وه لیدلې. (٢) یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړئ او زما قبر روښانه کړئ، بیشکه ستاسو ذات نُور نُور دې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب!  صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کاش چه زمونږه وجودونه په قینچیانو کټ کړې شوي وې

چه کله هم مُصِیبت راشي نو صبر کوئ او د ثواب حقدار جوړیږئ، اللّٰہ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په سیپاره ٢٣ سُورَةُ الزُّمَر آیت ١٠ کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّمَا یُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: بیشکه صبر کوونکو ته به ډیر اجر ورکولې شي بې حسابه.

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې آیت نه لاندې لیکي: حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

**المُرتَضٰی** شيرِخُدا رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: چه د هر يو نيکئ کوونکي نيکئ به تلَلَې [يعني وزن کولې] شي سِوا د **صبر** کوونکو د نيکو نه او هغوئي ته به بې اندازې او بې حِسابه [اجر] ورکولې شي او دا هم رِوايت دې چه **مُصيبَت وهلې خلق** به حاضِر کړې شي، نه به د هغوئي د پاره مِيزان [يعني تله] لګولې شي او نه به ئې دفترې [يعني اعمال نامې] پرانِستې شي او په هغوئي باندې به د اجر و ثواب بيشميره بارانونه راوريږی تر دې چه په دُنيا کښې د خير او د قلارې ژوند تيرولو والا خلق چه هغوئي ته اوګوري نو ارمان به کوي چه کاش: مونږه په مُصيبت وهلو کښې شامِل وې او زمونږه بدنونه په قينچيانو کټ کړې شوي وې چه نن مو د **صبر** دا ثوابونه موندلې وې.

(خزائِنُ العرفان ص ۸۵۰)

## سړې خورو ځناورو ئې خيټه شلولې وه (حِکايت)

**حضرتِ** سَيِّدُنا مُوسٰی کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلام يوه ورځ د يو سړي په خوا تيريدو چه د هغه خيټه سړې خورو ځناورو شلولې وه او غوښې ئې ترې شُوکولې وې، هغوئي عَلَيْهِ السَّلام هغه اوپيژندو، د هغه خوا ته اودريدو او دُعا ئې اوکړه چه: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! دا بنده خو ستا فرمانبرداره وو، زه دا په داسې حالت کښې ولې وِينم؟ الله عَزَّوَجَلَّ وَحي را اوليږله: "اے مُوسیٰ! ده زما نه هٔغه مقام غوښتې وو چه هغې ته دې د خپلو

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل
اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

اعمالو په ذريعه نه شو رسيدې نو ما دې هغه مقام ته د رَسَولو د پاره په دې مُصِيبت کښې اخته کړې دې.“ (تنبيهُ المُغْتَرِّين ص ۱۷۳)

## په ختو کښې لړلې شوې ماشوم (حِکايت)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د دې حِکايت نه معلومه شوه چه اللّٰه تَعَالٰی خپل نيك بندګان هم د درجاتو د اوچتولو د پاره په اِمتِحانونو کښې اچوي، بې شکه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په هر کار کښې حِکمَت وي، اَلبَتَّه دا ضروري نه ده چه صرف په نيکو بندګانو باندې دِ امتِحانونه راځي، کله کله ګنهګاران هم د ګناهونو د ګندګئ نه د پاکولو د پاره په مُصيبتونو کښې اَخته کولې شي. چنانچه مُفَسّرِ شَهِير **حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه په خپل زړه راښکونکي تقرير کښې فرمائي: چه **حضرتِ** سَيِّدُنا بايزِيد بِسطامي رَحْمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه په يو ځائ تيريدلو، څه ګوري چه يو ماشوم په ختو کښې پريوتې دې او د هغه بدن او جامې په ختو کښې لړلې شوي دي، خلق ورته ګوري او تيريږي، څوك هډو څه پرواه هم نه کوي! چرې د لرې نه خپلې مور اوليدو، په منډه منډه راغله، **ماشوم ئې يو دوه ټقه** اووهلو، جامې ئې ترې اووِيستلې او اوئې لمبولو. **حضرت** رَحْمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه چه دا اوليدل نو په وَجد [يعني جذبه] کښې راغلو او اوئې فرمائيل: چه هم دا حال زمونږه او د رَحمتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ هُم دې، مونږ د ګناهونو په دلدل کښې ککړ شو، بل څوك زمونږ څه پرواه لرې! خو د رَحمتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ درياب

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم.(شُعَبُ الاِيمان)

په جوش کښې راشي، مونږه د **مصيبتونو** په ذريعه سموي او د توبې او د عِبادتونو په اوبو غُسل راکړي او صفا سُتره مو کړي. (مُعَلِّم تقرير ص۳۳ مُلَخَّصاً) چه مهربانه مور د خبرداره کولو د پاره لږه سزا ورکولې شي نو زما خالِق او مالِك د دې نه ډير زيات مهربانه دې، کله کله د اِصلاح کولو د پاره سزا هم ورکوي.

رَبِّ کائِنات عَزَّوَجَلَّ د مؤمِنانو او مُؤمِناتو د ګناهونو وِينځلو او د درجاتو د اوچتولو د پاره هغوئ په مصيبتونو کښې اَخته کوي. لِهٰذا چه کله هم څه مصيبَت راشي نو د سيپاره ۲۰ **سُورَةُ الْعَنْكَبُوت** په دويم آيت باندې غور کوئ.

اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْۤا اَنْ يَّقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ۝۲

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: آيا خلق په دې سوچ [يعني ګُمان] کښې دي چه په دومره خبره به پريښودې شي چه اوواﺋي: مونږ اِيمان راوړو او د هغوئ ازميښت به نه کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هيڅ خير نشته

**حضرتِ** سَيِّدُنا ضَحَّاك رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرماﺋي: څوك چه په څلويښتو شپو کښې يو ځل هم په **آفت** يا فِکر او پريشانئ کښې اخته نه شي د هغه د پاره د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په دربار کښې د هيڅ قِسم خير نشته. (مُکَاشَفَةُ القُلُوب ص۱۵)

فرمانِ مصطفٰےﷺ: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

## د آفت او راحت په باره كښې د حِكمَت نه ډك رِوايت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! دُنياوي آفت او مُصيبَت د مسلمان په حق كښې اكثر لوئې **نِعمَت** وي، لكه څنګه چه منقول دي: **الله** عَزَّوَجَلَّ فرمائي: چه كله زه په يو بنده باندې **رحم** كول غواړم نو د هغه د بدئ بدله په دُنيا كښې وركووم، كله د بيمارئ په ذريعه، كله د كور د كسانو په مُصِيبَت كښې د اچولو په ذريعه، كله د تنګدستئ په ذريعه، بيا هم كه څه پاتې وي نو د مرګ په وخت كښې په هغه سختي كووم تر دې چه كله هغه زما سره ملاقات كوي نو **د ګناهونو نه داسې پاك شوې وي څنګه چه په هغه ورځ وو په كومه ورځ چه هغه د خپلې مور نه پيدا شوې وو.** او زما دِ په خپل عِزَّت او جلال قَسم وي چه زه كوم بنده ته د **عذاب** وركولو اِراده لرم هغه ته د هغه د هرې نيكئ بدله په دُنيا كښې وركووم، كله د بدن د صِحَّت په ذريعه كله د رزق د فراخئ په ذريعه، كله د بال بچو د خوشحالئ په ذريعه، بيا هم كه (د نيكو بدله وركول) څه (پاتې) وي نو د مرګ په وخت كښې په هغه آساني اوكړم، تر دې چه كله زما سره ملاقات كوي نو د هغه په نيكو كښې (د هغه سره) هيڅ هم پاتې نه وي چه هغه پرې د جَهَنَّم د اور نه بچ شي. (شَرحُ الصُّدُور ص٢٨)

## په سهولتونو فخر مه كوه!

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په دې رِوايت چه غور اوكړې شي نو يَره پكار ده چه د ګاډو، بلډِنګونو، دولتونو او صِحَّتونو او د قِسم

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

قِسم نِعمتونو ډيروالي چرې په دُنيا کښې زمونږه د نيکو بدله نه وي. او خپلې غريبئ، آفتونو، بيمارو او په قِسم قِسم مصيبتونو باندې صبر کول او زړه غټ ساتل پکار دي چه کيدې شي دا د آخِرت د آرام او نِعمتونو ذريعه جوړ شي. مونږ د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه د دواړو جهانو خير غواړو.

ڈر تھا کہ عصیاں کی سزا، اب ہوگی یا روزِ جزا
دی اُن کی رحمت نے صدا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں

د شعر ترجَمه: يريدم چه د ګناه سزا به اوس وي که په ورځ د جزا
راکړو آواز د هغوئي رَحمت، دلته هم نه، هلته هم نه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مُصِيبَت عجيبه حِکمَت (حِکايت)

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا فرمائي: چه **يو نبي** عَلَيۡهِ السَّلَام د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے زما رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ! **مؤمِن** بنده ستا **فرمانبرداري** کوي او ستا د **نافرمانئ** نه ځان ساتي خو ته د هغه نه دُنيا راټوله کړې او په ازميښتونو کښې ئې اچوې. او کافِر ستا اِطاعت [يعني فرمانبرداري] نه کوي بلکه په تا او ستا په نافرمانئ جُرأت کوي خو ته د هغه نه **مُصيبت** لرې ساتې او د هغه د پاره دُنيا فراخه کړې (آخِر په دې کښې څه حِکمت دې؟) الله عَزَّوَجَلَّ د هغوئي طرف

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

ته وحي اوفرمائيله: بندګان هم زما دي او مُصيبَت هم زما په اِختيار کښې دي او ټول زما د **حمد** [يعني صِفَت] سره زما **تسبِيح** [يعني پاکي وائي] وائي، **د مُؤمِن په غاړه ګناهونه وي نو زه د هغه نه دُنيا** [يعني مال، دولت، سهولتونه] **لرې کړم او هغه په ازميښت کښې واچووم نو** (دا ازميښت او مصيبت) **د هغه د ګناهونو کفّاره جوړ شي.** تر دې چه هغه زما سره ملاقات کوي نو زه به هغه ته د نيکو بدله ورکووم، او د کافِر (په دُنياوي اعتِبار) څه نيکئ وي نو زه د هغه د پاره رِزق فراخه کړم او مُصِيبَت ترې لرې ساتم نو دغسې د هغه د نيکو بدله په دُنيا کښې ورکړم تر دې چه هغه کله زما سره ملاقات کوي نو زه به هغه ته د هغه د ګناهونو سزا ورکووم. (اِحياءُ العُلوم ج٤ ص١٦٢)

## سمدستي سزا

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَبُّ الاَنَام عَزَّوَجَلَّ په هر هر کار کښې د هغه حِکمتونه وي، په تکليف باندې د صبر کولو په ذريعه اجر [يعني ثواب] حاصلول پکار دي ځکه چه آفتونه او مصيبتونه د ګناهونو کفّاره او د درجاتو د ترقئ باعِث وي. چنانچه تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه کله د يو بنده سره د ښيګړې اِراده کوي نو د هغه د ګناه سزا فوراً هغه ته په دُنيا کښې ورکوي.

(مُسنَد اِمام اَحمد بِن حنبل ج ٥، ص ٦٣٠، حديث ١٦٨٠٦)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَانِي)

## د آخِرت د مُصِيبَت نه د دُنيا مُصِيبَت آسان دې

آه! مونږ خو سراسر په ګناهونو کښې ډوب يو، چه کله هُم څه مُصيبَت راشي نو کاش چه! دا سوچ رانصيب شي چه شائد د آخِرت په ځائ په دُنيا کښې سزا راکړې شوه. اُمِّيد دې چه په دې طريقه به صبر کول آسان شي. **قَسَم په خُدائے** عَزَّوَجَلَّ! د مرګ نه پس [يعني د قبر و حشر د] سزا په مُقابَله کښې د دُنيا سزا ډيره آسانه ده. دَ دُنيا مُصِيبت بنده په څه نه څه طريقه برداشت کړي **خو د آخِرت مُصيبت هډو برداشت کيدې نه شي.** تر دې چه که څوك اووائي چه زه به د قبر يا د جَهَنَّم عذاب برداشت کړم نو هغه به **کافِر** شي.

## زمونږ په حق کښې څه بهتر دي، مونږ ته معلومه نه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ چه څه کوي يقيناً هغه ښه کوي، کله کله بنده په څيني کارونو باندې نه پوهيږي خو ډير ځله په هغې کښې د هغه بهتري وي. چنانچه په سيپاره ۲ سُوْرَةُالْبَقَرَه آيت ۲۱۶ کښې اللّٰه تَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

وَ عَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ خَیْرٌ لَّكُمْۚ وَ عَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْؕ وَ اللّٰهُ یَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ۠ (۲۱۶)

(پارہ ۲ اَلْبَقَرہ آیت ۲۱۶)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او نِزدې ده چه يوه خبره تاسو ته ناخوښه وي او هغه ستاسو په حق کښې بهتره وي او نِزدې ده چه يوه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بده وي، او **اللّٰه** (عَزَّوَجَلَّ) پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## هر يو ته د اِمتِحان د پاره تيار اوسيدل پکار دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **اِيمان** سره ژوند تيرولو والا يقيناً کامياب دي، ډيره نازکه معامله ده، شيطان هر وخت د ايمان د بربادولو په کوشش کښ لګيا دې، په مُصيبت راتلو باندې **صبر** کول او په هر حال کښ د **اللّٰهُ رحمٰن** عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسيدل پکار دي. پاك پروردګار عَزَّوَجَلَّ زمونږه مالِك و مُختار دې، د چا د پاره چه اوغواړي **بې حِسابه** ئې په جَنَّت کښ داخِل کړي او د چا د پاره چه اوغواړي نو په **امتِحان** کښ ئې واچوي او د **صبر** توفيق ورکړي او د اِنعام او اِکرام بارانونه پرې اووَرَوي. کامِل مُؤمِن هُم هغه دې څوك چه په هر حال کښ د رَبِّ ذُوالْجَلال عَزَّوَجَلَّ شکر ګُزاره بنده اوسي. د مصيبتونو په وجه په **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ باندې اِعتِراض کوونکې کس ډير زيات بدنصيبه او خپل ځان د هميشه د پاره دوزخ ته حواله کولو والا دې. **هر مسلمان ته پکار دي چه ځان د اِمتِحان د پاره تيّار ساتي. خُدائے رَحمٰن** عَزَّوَجَلَّ په دويمه سيپاره، سُوْرَةُ الْبَقَرَه، آيت ٢١٤ کښ د عِبرت نه ډك اِرشاد فرمائي:

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ

**مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان:** آيا تاسو دا ګُمان لرئ چه جَنَّت ته به داخِل شئ، او تر اوسه پورې په تاسو باندې د تير شوو [اُمَّتونو] په شان حالت نه دې راغلې.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

# د اوسپنو په ګمنزو به ئې ترې غوښې شُوکولې

صدرُ الافاضِل حضرتِ عَلّامه مولانا سَیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه په خَزائِنُ الْعِرفان صفحه ۷۱ کښې د پاسني آیتِ کَرِیمه نه لاندې لیکي: او ځنګه سختیٔ چه په هغوئې (یعني په تیرشوو مسلمانانو [اُمّتونو]) تیرې شوې دي تر اوسه لا په تاسو نه دي راغلي. دا آیت د غَزوهٔ اَحزاب مُتَعَلِّق نازِل شوې دې چه په هغې کښې مسلمانانو ته د یَخنیٔ او د لوَږې وغیره سخت تکلیفونه رسیدلي وو. په دې کښې هغوئې ته د صبر تلقین اوکړې شو او ورته اوښودې شوه چه د الله عَزَّوَجَلَّ په لار کښې تکلیفونه برداشت کول د پخوا نه د الله عَزَّوَجَلَّ د خاصو بندګانو معمول تیر شوې دې، اوس خو لا تاسو ته د پخوانو خلقو په شان تکیلفونه نه دي رسیدلي. (خَزائِنُ الْعِرفان صفحه ۷۱) په بُخاري شریف کښې د حضرتِ سَیِّدُنا خَبّاب بِن اَرَت رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې: چه رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "ستاسو نه مخکښې خلق به ګرفتار کړې شو، په زمکه کښې به قوتې اوکنستې شو او په هغې کښې به [نِیم] خخ کړې شو او بیا به په آرو ریبلې شو او دوه ټکړې به کړې شو، او د اوسپنو په ګمنزو به ترې غوښې اوشُوکولې شوې او په دې کښې به یو مُصیبت هم هغوئې د خپل دِین نه، نه شو منع کولې.

(بُخاری ج ٤، ص ٣٨٦، حدیث ٦٩٤٣ مُلَخَّصاً)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

## د مُصِيبت پټولو فضيلت

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو!** په بِيمارئ او پريشانئ باندې د ګِيلو قِيصو کولو په ځائ د صبر کولو عادت جوړول پکار دي ځکه چه په شِکايت [يعني ګِيله] کولو باندې مصيبت نه لرې کيږي، بلکه په بې صبرئ کولو د **صبر** اَجر ضائع شي. بې ضرورته خپله **بيماري** او **مُصيبَت** ښکاره کول هم ښه خبره نه ده. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا **عبدُ الله اِبنِ عبّاس** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: چه رَسُولِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: "**که د چا په مال يا بدن مصيبت راغي بيا هغه، هٰغه** [مصيبت] **پټ کړو او خلقو ته ئې د هغې ګِيله اونه کړه نو په الله** عَزَّوَجَلَّ **باندې حق دي چه د هغه بخښنه اوفرمائي.**" (مُعْجَم اَوْسَط ج ۱، ص ۲۱٤، حديث ۷۳۷)

## د غاښ د درد د لاسه اوده نه شوم! (حِکايت)

حُجَّةُ الْاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ نقل کوي، چه حضرتِ سَيِّدُنا اَحنَف بِن قَيس رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: يوه شپه زما په غاښ دومره ډير زيات درد شو چه د هغې په وجه زه ټوله شپه اوده نه شوم، ما بله ورځ خپل تره رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ته د هغې ګِيله [يعني شِکايت] اوکړو چه "زه د غاښ د درد د لاسه ټوله شپه اوده نه شوم." دا خبره ما درې پيرې اوکړه. په دې باندې هغوئي اوفرمائيل: چه تا خپل د يوې شپې د درد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

دومره زيات شِكايت اوكړو! حالانكه ديرش كاله اوشو چه زما ستركه ضائع شوې ده (حالانكه ليدونكي ئې وِيني خو ما په خپله خُله كله هم چا ته د دې شكايت نه دې كړې. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج٤، ص١٦٤) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زباں پر شکوۂ رنج و الم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

د شعر ترجمه: د نبي غلامان د غمونو او دردونو كيلې نه كوي، او نه د غمونو نه يريږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# 32 روحاني عِلاجونه

## د ورک شوي كَس د بيرته راوستلو درې اعمال

(۱) د يو غټ شان كاغذ په څلورو واړو كونټونو يَاحَقُّ اوليكئ او نيمه شپه يا بل وخت ئې په دواړو لاسونو كيږدئ او اسمان ته بنكاره اودريږئ او دُعا اوكړئ، اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ يا خو به ورك شوې كس زر بيرته راشي يا به د هغه څه دَرَك اولګي. (موده: د مُراد پوره كيدو پورې)

(۲) د څلويښتو ورځو پورې هره ورځ دوه رَكعته نفل كوئ او د هغې نه پس يَاحَيُّ يَاقَيُّوْمُ ۱۱۹ ځله لولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ تَعَالٰى ورك شوې كس به بيرته راشي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

(۳) كښې څه خيز ورك شوې وي يا خوك ورك شوې وي نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۱۰۰۸ ځله اولولئ، كه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته منظوره وه نو ورك شوې څيز يا سړې به پيدا شي.

## ورک شوي اِنسان، مال يا ګاډې به بير ته په لاس درشي (اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ)

(٤) د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت په رحمَت باندې د پوخ يقين سره په روانه [ولاړه، ناسته] په اوداسه كښې او بې اوداسه يَارَبِّ مُوسٰى يَارَبِّ كَلِيم. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط لولئ، په دې دوران كښې يو څو ځله دُرود شريف هُم لوَلئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ورك شوي اِنسان، سره زر، مال يا ګاډې وغيره به پيدا شي، بلكه د نورو حاجتونو د پاره هم دا عمل فائِده مند دې. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

## د حاجتونو د پوره كيدو د پاره درې اعمال

(٥) "يَا اَللّٰهُ" چه ۳۹ ځله اوليكي او په مټ ئې اوتړي يا ئې په غاړه كړي، كوم حَاكِم [حكومتي كس] يا افسر له چه د جائِز كار د پاره ورشي، اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه به د هغه حاجت پوره كړي.

(٦) يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام ۳۲۱ ځله اولولئ او د خپل توفيق مطابق څه خوږ څيز په ماشومانو باندې تقسيم كړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مُراد به مو پوره شي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

(۷) قَلَّتْ حِيْلَتِيْ اَنْتَ وَسِيْلَتِيْ اَدْرِكْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم[1] په ناسته په ولاړه په روانه په اوداسه کښې او بې اوداسه لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مُراد به مو پوره شي.

## د وَريدلو واورو د اودرَوَلو د پاره

(۸) يَاحَافِظُ، يَاخَافِضُ د اوسپني د تَبَخي په شا د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ دا دواړه مبارك نومونه په ګوته اوليکئ او د اسمان نه لاندې ئې کيږدئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ واري وريدل به بند شي.

## د دُښمن نه د حِفاظت ځلور وظيفي

(۹) په ګرځيدو، په ناسته، په ولاړه په کثرت سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وئيلو والا به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دُښمن د شر نه په حِفاظت کښې اوسي او د ربِّ غَفّار عَزَّوَجَلَّ په رَحمت به د چالاکه او مکار دُښمن ټولې حملې ناکامه کيږي.

(۱۰) يَا قَابِضُ، يَا بَاسِطُ ۳۰ ځله هره ورځ لولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دُښمن خِلاف به فتح حاصليږي.

---

[1] يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما حِيلې ختمې شوې، هُم تاسو زما وسيله ئې، را اورسيږئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

(١١) يَاحَافِظُ، يَاخَافِضُ پينځه سوه ځله اولولئ اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دُښمن د تڪليف نه به په امن ڪښ اوسئ.

(١٢) که د طاقتور دُښمن نه د ځان او د مال خطره لرئ نو د هر نمانځه نه پس يَاذَالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام ٤٢١ ځله (مخڪښ وروستو درود شريف) لولئ، بيا په ژړا او زارئ د حِفاظت دُعا ڪوئ اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دُښمن د شر او فساد نه به په حِفاظت ڪښ اوسئ.

## د ڪشتئ (او د هر قِسم سوَرلئ) د حِفاظت د پاره دوه وظيفې

(١٣) خوك چه په ڪشتئ ڪښ د سوريدو نه مخڪښ ٢١ ځله لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اووائي د هغه ټول سفر به په آرام او سڪون تيريږي او هغه ڪشتئ به اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د ډوبيدو نه په حِفاظت ڪښ وي.

(١٤)په ڪشتئ ڪښ يا په بله سورلئ ڪښ چه د سوريدو نه مخڪښ ١٣٢ ځله يَاحَيُّ يَاقَيُّوم اولولئ نو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د لارې د آفتونو نه به په حِفاظت ڪښ اوسئ تر دې چه په سخت طوفان ڪښ به هم ڪشتئ د ډوبيدو نه په حفاظت ڪښ وي.

## په سفر ڪښ د اسانئ او د ڪاميابئ دوه اعمال

(١٥) د سفر شروع ڪولو نه مخڪښ ٢١ ځله لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اولولئ اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ په سفر ڪښ به درته آساني وي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

(١٦) لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه ٤٩ ځله اوليکئ او په سفر کښې ئې د ځان سره کيږدئ نو کور ته د بيرته راتلو پورې به د زمکې او د درياب د آفتونو نه په حِفاظت کښې اوسئ، او د څه مقصد د پاره مو چه سفر کړې وي په هغې کښې به درته کاميابي نصيب کيږي. اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ

## په واده کښې د رُکاوټ درې روحاني عِلاجونه

(١٧) د کومو جينکو چه واده نه کيږي، يا ئې کويژدن اوشي او بيا ماته شي هغوئې دِ د سحر د نمانځه نه پس يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام ٣١٢ ځله لولي او د ځان د پاره دِ د نيك هلك سره د واده کولو دُعا کوي، اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ زر به ئې واده اوشي او خاوند به هم ورته نيك نصيب شي.

(١٨) يَاحَيُّ يَاقَيُّوْمُ دِ ١٤٣ ځله اوليکي او بې واده هلك دِ ئې په مټ اوتړي يا دِ ئې په غاړه کړي اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د هغه واده به زر اوشي او کور به ئې هم ښه چليږي.

(١٩) که د جينئ يا د هلك په کويژدن کښې رُکاوټ وي يا ئې د جادو شك وي نو هره ورځ دِ د سحر د نمانځه نه پس په اوداسه کښې هره پيره د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم سره سُوْرَةُ التِّيْن شپيته ځله لولي. اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ په ځلويښتو ورځو کښې دننه دننه به کار اوشي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

## د حادِثو نه د حِفاظت عمل

(۲۰) بِسۡمِ اللّٰهِ تَوَکَّلۡتُ عَلَی اللّٰهِ لَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بَاللّٰهِ (د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم، ما په الله عَزَّوَجَلَّ باندې تَوَکُّل اوکړو، د بدئ نه د بچ کيدو او د نيکئ کولو توفيق صرف د الله عَزَّوَجَلَّ د طرف نه دې) (اَبُوداؤد ج ٤، ص ٣٢٠، حديث ٥٠٩٥)

د يو صاحِب وينا ده: چه د کور نه د بَهر وتلو (دا پاسنئ) دُعا مې چه د کله نه وئيل شروع کړې ده نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ډير ځله د حادثې نه بچ شوې يم او څو څو پيرې زما د ګاډې شيشې د نورو ګاډو سره جنګيدلې دې خو د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل هيڅ څه حادثه يا نقصان مې نه دې شوې.

## د مقدمې ګټلو دوه وظيفې

(۲۱) څوک چه په ناجائِزه مقدَّمه کښې نښتې وي نو د مُقدَّمې د تاريخ په ورځ يَاذَا الۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام دِ ٦٥٤ ځله اولولي او کورټ [يعني د فيصلې ځائ عدالت] ته دِ لاړ شي، اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فيصله به د هغه په حق کښې کيږي.

(۲۲) وَقُلۡ جَآءَ الۡحَقُّ وَزَهَقَ الۡبَاطِلُ ؕ اِنَّ الۡبَاطِلَ كَانَ زَهُوۡقًا ﴿۸۱﴾ (پ ١٥، بنیٓ اِسرآءِيل ٨١)

په مُقَدَّمه کښې د کاميابئ د پاره هره ورځ د يو مونځ نه پس ۱۳۳ ځله لولئ [که د هر يو مونځ نه پس وي]. که په حق ئې نو لولئ ئې ګټې د ناحقه د پاره لوستونکې پخپله په مُصيبَت کښې ګرفتاريدې شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## كه په چِلّه پخولو كښې دربانديې بد اثر شوې وي

(۲۳) يَا وَاحِدُ هره ورځ ۳۰۰۰ ځله د يوولسو ورځو پورې لولئ (مخكښې وروستو ترې يوولس يوولس ځله درود لولئ) اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ زړه به مو په سكون شي.

## د قيد نه د خلاصيدو د پاره دوه اعمال

(۲٤) كه څوك ظُلماً [يعني بې ګناه] قيد شوې وي نو په روانه، ناسته، ولاړه دِ يَاحَیُّ يَاقَيُّوْمُ په كثرت سره لولې او په كاغذ دِ هم يَاحَیُّ يَاقَيُّوْمُ اوليكې او [په مټ دِ ئې اوتړي يا دِ ئې په غاړه كښې] واچوي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ زر به خلاصې اومومي.

(۲٥) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دِ په كثرت سره وائي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د قيد نه به زر خلاص شي.

## د كوهي يا د نهر د اوبو د كمئ روحاني علاج

(۲٦) كه د يو كوهي يا نهر اوبه كمې شي نو په ګودنړي [يعني د خورين لوښي په ماته ټُكړه] باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اوليكئ او په هغه كوهي يا نهر كښې ئې واچوئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په اوبو كښې به بَرَكت پيدا شي.

## د دُكان، مكان، خاندان يا سامان د حِفاظت پينځه اعماله

(۲۷) كه هره ورځ يَا اَللّٰهُ ٤٩ ځله اولوستې شي او دُكان، مكان يا مال و اسباب پرې دَم كړې شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د مختلفو آفتونو نه به په حِفاظت كښې وي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

(۲۸) په کاغذ باندې ۶۹ ځله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اوليکئ، په فريم کښې ئې اولګوئ او په دُکان يا مکان وغيره کښې ئې زوړند کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هلته به پيريان نه راځي او که د مخکښې نه وي نو اوبه تښتي.

(۲۹) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه اولوستې شي او د استعمال څيزونه پرې دَم کړې شي نو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ حِفاظت به ئې هم کيږي او بَرَکت به پکښې هم کيږي.

(۳۰) چه څوک د رقم يا هر يو څيز د ورکړې راکړې نه مخکښې د ۲۱ ځله يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام لوستلو عادت جوړ کړي، هغه به اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ په هغه معامَله کښې د نُقصان کيدو نه په حِفاظت کښې وي.

(۳۱) څوک چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۶۵ ځله اوليکي او د ځان سره ئې کيږدي، اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د ظالِمَانو د ظُلم نه به په حِفاظت کښې اوسي.

## د سر درد به په مِنټونو کښې ښه شي

(بيان شوي يوناني او کورني علاجونه د خپل طبيب په مشوره کوئ)

يوه قاشوغه چيني او د دوو غټو لاچو تُخم په خُله کښې واچوئ او د ژاولې په شان ئې جُوئې او اوبه ئې تيروئ. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ تقريباً پينځه مِنټه کښې به تيز درد هم ښه شي. د يو څو ورځو د استعمال سره به اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د سر درد د مَرَض نه خلاص شئ. د شُوګر مريض دِ د چينئ په ځائ د شنې پودينې دولس پاڼې اِستِعمالَوي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## د يُورِک اَيسِډ عِلاج د نِيمبو او د مُولئ په ذريعه

يوه درميانه غوندې مولئ وړه وړه کوئ او د يو نيمبو رس پرې نچوړوئ، نوره هيڅ مالګه يا مساله پرې مه اچوئ او په نَهَره ئې خورئ، د يوې ګينټې پورې پرې د پاسه هيڅ هم مه خورئ. اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ يُورِك اَيسِډ به مو نارمل [يعني صحيح] شي.

(دا عمل د ووه ورځو پورې اوکړئ)

## د شُوګر ، کوليسټرول او هائي بلډ پريشر اسان عِلاج

کريلې سپينې کړئ او اوچې ئې کړئ، بيا ئې سره د تُخم ميده کړئ او پوډر ترې جوړ کړئ، سحر او مابنام نيمه نيمه قاشوغه استعمالولو سره به اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د شُوګر، هائي بلډ پريشر او د کوليسټرول په مَرَضونو کښې به فائِده اوشي.

## د مُختلفو بيمارو او پريشانو روحاني عِلاج

(۳۲) د بَدَني، نَفسياتي، مختلفو بيمارو، اثراتو، جادو، بدنظرئ او بندِش وغيره د پاره يو عجيبه اثر لرونکې عمل دې، که دا عمل ټول کور والا کوي نو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د کورونو جَګړو او پريشانو نه به خلاص شي او په کور کښې به امن و امان شي.

د سَحَر په دوو سُنّتو کښې او د ماسپښين، مابنام او ماسخُتن د فرضو نه وروستو دوه دوه رکعته سُنّتو کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحه نه پس د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعيِ په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

قُرآنِ پاك آخِري شپږ سُورتونه په دې طريقه لولئ: په اولني رَكعت كښې سُورةُ الْكافِرُون، سُورةُ النَّصر او سُورةُ اللَّهَبْ او په دويم ركعت كښې سُورةُ الْاِخْلَاص، سُورةُ الْفَلَقْ او سُورةُ النَّاس لولئ، د هر سُورت په شروع كښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ټولئ. (د عِلاج موده: د شِفا حاصليدو پورې) كله كله دا سورتونه پريږدئ او نور سُورتونه لَولئ.

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَكتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي كتاب بَہارِ شریعت، جِلد اوّل صفحه ۵۴۸ كښې په مسئَله نمبر۳۰ كښې دي: د سُورتونو مُعَيَّن كول (يعني ټاكل) چه په هغه مانځه كښې هميشه هم هغه سورتونه لوَلي، دا مكروهِ (تنزيهي) دي خو چه كوم سُورتونه په حديثو كښې راغلي دي هغه كله كله وئيل مُستحب دي خو هميشه والې دِ پرې نه كوي چه چرې څوك ئې واجِب اونه ګڼري.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دا رساله اولولئ او بل ته ئې وركړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره كښې د مَكتَبَةُ الْمَدِيْنه نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچئ تقسيم كړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهكونو ته په تحفه كښې وركولو د پاره په خپلو دُكانونو كښې هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړ كړئ، د اخبار خرڅونكو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاونډ كښې كور په كور وقفه په وقفه كله يوه كله بله د سنّتو نه ډكو رِسالو رسَولَو په ذريعه د نيكئ دعوت عام كړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طلب غم مدینہ بقیع و مغفرت وبے حساب جنّت الفردوس میں آقا کا پڑوس

۲۳ صفر المظفر ۱۴۳۷ھ

06-12-2015

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيک او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ۞ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ




www.dawateislami.net

مکتبة المدينة
MAKTABA TUL MADINAH
MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net